مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۹/۱۵

مابنامی مجلس

(۱۴)

حجري ته په ترنم راننوت. په ګډوډ غږ يې ويل:
او، له ازاره چا بازار موندلی نه دی نو...
ما ويل بس که اندیواله! د استاد ګلزمان خبره ؛ نه دي سُر برابر دی او نه لای. خو لکه شارټ رادیو په خپل سر لګیا يې.
بیچاره ګي ته بل بیت هم نه و زده، بس په همدي لومړي نیم بیتي يې داسي شخوند واهه، لکه کوم بې غابنونو سړی چې چپلي کباب ته میلمه کړي.
کیناست. پر ټنده يې دسمال راکش کړ. د چای پیاله يې، له څو اړخونو وکتله. پوزې ته يې نږدې کړه: لکه چې نن پکې هېل هم نشته.
ما ويل: انصافداره، ورو ورو به هرڅه کي تغییر راشي. ممکن بله ورځ همدا شمه وچه کړم او بیرته يې بیا خوټیدلو اوبو کي درته واچوم. نا شکري مکوه، فقط سوله مو غوښتله او دا ده تر یو حده الحمد لله راغله. نور فرمایشونه پریږده.
په پیاله مي ورته د چاینکي مښوکه راټپټه کړه او بیا مي ورته ویل: دا راته وایه چې څنګه په ترنم راغلی او څنګه دي د ترنم لپاره دا نیم بیتي (له ازاره چا بازار موندلی نه دی) انتخاب کړ؟
ښه شیبه يې راکتل او بیا يې خوله پرانیسته: (درد جب حد سے گزر تا ہے تو گا لیتے ہیں...)
ما ويل: واه، کمار سانو، واه. اوس د اردو نوبت شو. پریږده یاره، شاعران وایي پر موږ د شعر ښاپیرۍ کیني، ستا پر څټ لکه چې د اخوا پښتنو په لهجه ، د ترنم ښاپیریانو پرلت وهلی.
ترخه موسکا يې وکړه او بیا يې ويل:
ګوره، د شاوخوا نیم میلیون بیلابیلو مجهزو امنیتي ځواکونو په زور د ولاړ نظام ستنی څومره په نري شمال ونړیدي، د همدي نظام لوړ پوړي چارواکي څنګه اوس په پردیو هیوادونو کي لکه د چرګانو غله، عاجزه عاجزه ګرځي. دلته پاتي شویو ته يې وګوره؛ داسي سپیره سپیره مخونه يې نیولي لکه ټوله میاشت چې يې د حمام ور نه وي پرانیستی. څه شو هغه دبدب يې؟ څه شو هغه شان او شوکت يې؟ او...
-بس که یاره، اصلي خبره کوه. زړه دې راتنګ کړ. زه څه خبر یم ، خو ته يې راته علتونه ووایه، ته له ما غوندې یوه نالوستي سره ناست يې، ته اوس څه د اګاه امور سیاسي ملي و بین المللي، ښاغلي احمد سعیدي، په حجره کي میلمه يې.
-سوړ اسویلی يې وویست، ګوره. یو باغي قوماندان د ملي اردو چورلکه وویشته، ګل ګل ځوانان يې شهیدان کړل، داسي ځوانان چې په برکت يې همدي مشرانو بې غمه واکمني کوله، عزت يې جوړ و، دبدبې يې وی. شان او شوکت يې و. خو د همدي اتلانو قاتل ته یوه ارګ میشتي عینکي استاذ برائت ورکړ. د مقتولینو د وینې پوښتنه و نشوه.د چورلکې پوښتنه ونشوه، اوس څنګه هماغه چشماټو لکه کورموش په کومه سوړه ننوتلی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وګوره؛ همدې قهرماني اردو د خپلو مشرانو په امر شمال کې په يوه بل باغي عمليات وکړل، نړدې يو درجن سرونه يې تويه شول، خو چا يې د وينې پوښتنه ونکړه. هماغه باغي، د اردو په چورلکه کې په عزت کابل ته را انتقال شو.
سړی جذباتي شو: ايا دا د سرتيرو د وينې سپکاوی نه و؟
ايا دا اردو ته توهين نه و؟
غلی وم، هغه بيا غاړه تازه کړه:
ګوره، د همدې اتلې اردو سرتيري به محاصره وو، خواړه به يې ختم و. ټپيان به پراته وو، خو چورلکو کې به ځينو جنابانو لکه د جلال اباد لاين ميرسيډيز، خپلو کورونو ته چکری وهلې. چا به د خپلو تنظيمي ګټو لپاره له خپلو قومونو سره د ليدنو کتنو په موخه پکې سفرونه کول
ګوره؛
خيټورو مشرانو به ۱۸ رقمه غوښې خوړلې، د بلند منزلو به يې شمار نه و، خو د امنيتي سرتيرو به په ميا شتو معاشونه ځنډيدلي وو.
سړی غلی شو. داسې مسلسل ګوتونه يې کول لکه ماشوم ته چې ټکنده غرمه کې د (شفاء) ډک بوتل په لاس ورشي.
پياله يې کيښوده:
کاش، يوازې د خپلو زړورو امنيتي سرتيرو ازار يې اخيستی وای، دې بزدلانو خو د عوامو ازار هم واخيست. له يوه عادي بدمعاشه يې د پلازمينې په زړه کی بيچاره دوکانداران ونشو ژغورلی. د قوه يې مرکز هټيوال دې ياد شي؟ چې د اعتراض په توګه يې هټی ټرلې وې او ويل يې چې يو بدمعاش تري په رنا ورځ باج اخلي. خو نه بدمعاش ونيول شو او نه د دوکاندارانو حقونه تامين شول. دا ښاري بدمعاش به خامخا د چا په ملاتړ مست و.
ګوره؛
په رنا ورځ د خلکو اولادونه وتښتول شول، په ژوندوني يې د بدن غړي ور پرې شول، خو جنايتکارانو د خپلو جنايتونو سزا ونه ليده. جلال اباد کې د هډوکو کمساری متخصص نوروز شينواری دې ياد شي؟ په رنا ورځ يې شهيد کړ، په دې تنګ لنډ ښار کې نه قاتلين معلوم شول او نه چا سزا وليده. د افغانستان د ښيرازې د ارمانجن ناکامورا قضيه دې ياده شي؟ د بلخي ماشوم عبدالروف غمجنه پيښه دې ياده ده او....
زړه مې رادک شو، ما ويل:
بس کړه ياره، ټوله ورځ د وطن حالاتو ته زړه خورو، مابنام چې ته راشي د زړه پاتې برخه مو ته وخوري.
ميلمه غلی شو. تر ډيره غلی و. دواړو لاسونو کې يې د چايو پياله داسې ټينګه نيولې وه، لکه ګوتو ته چې ټکور ورکوي. اخر يې سکوت مات کړ:
اندیواله! زمور ولس ډير زيات کړيدلی. هيڅا پرې رحم نه دی کړی. ډيرې سختې يې ګاللي. خو يو شی چې تجربو ثابت کړ هغه دا دی چې که هرڅوک له دې ولس سره ظلم کوي، ځوروي يې، حقونه يې خوري، کړوي يې، بې احترامي يې کوي؛ نو نه يې ښه ورځ ليدلې او نه به ان شاء الله چې ښه ورځ وويني. په دې بار بار کړيدلي ولس رحم، اصلا په خپل ځان رحم دی.
پورته شو ، بيا يې هماغه ترنم په لوړ اواز شروع کړ او له حجرې ووت:
او،
له ازاره چا بازار موندلی نه دی، نو...

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ